ABADI weekly
هفته نامه
ابادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

ګڼه ۶

نیټه: شنبه، د ذوالحجې ۵مه، ۱۴۴۴ هـ. ق کال






افغانستان له څلورو لسیزو را هیسې له جګړې او بهرني یرغل سره لاس او ګریوان و. د جګړو پرمهال د هېواد ټول بنسټونه ونړېدل. د لویو لارو او سړکونو په ګډون، ښارونه، صنعتي فابریکې د جګړې د اور خوراک شول، زیاتره زیربناوې له منځه ولاړې. په دې موده کې په افغانستان کې نه حاکمو حکومتونو او نه هم یرغلګرو داسې بنسټیز کار کړی چې هغه دې وکولای شي، د تیرو جګړو له امله رامنځته شوي زیانونه جبران کړي. په تېرو شلو کلونو کې خو بیا په افغانستان کې د بیارغونې شعارونه ورکول کېدل، خو عملي جامه یې ځکه نه اغوسته چې هغه مهال په حکومت کې خپلسري او اداري فساد اوج ته رسېدلي وو.

د اسلامي امارت په راتګ سره دې ناخوالو ته پای ورکړل شوی دی. بلکه دا چې اسلامي امارت هر څه په عمل کې پیاده کوي او شعار نه ورکوي. دا مهال یې د هېواد د سترو او ترانزیټي لارو ترڅنګ د ښارونو په داخل او کلیو بانډو ته د غځیدلو سړکونو او لارو د بیارغونې چارې پیل کړې دي. د لویو ښارونو ښاروالیو له ماسټر پلان سره سم خپلې چارې چټکې کړې دي. د ښاري ښکلا تر څنګ یې د هغو سړکونو جوړولو چارې پیل کړې دي چې کولای شي، په ښار کې د ګڼې ګوڼې مخه ونیسي او خلک له کومې ستونزې پرته له ښاري ترانسپورټ څخه ګټه پورته کړي. ددې ښاروالیو له ډلې څخه د کابل ښاروالۍ په دې ښار کې د سړکونو جوړولو او رغولو ته مخه کړې ده. په همدې موخه یې په دې وروستیو کې د سړکونو د جوړولو پروژې پیل کړې دي چې د ځینو یې کارونه پیل او یو شمېر یې بیا بشپړې او ګټې اخیستنې سپارل شوې دي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۲ لمریز کال د غبرګولي په ۲۵مه په کابل ښار کې د ښاروالۍ د پنځو لویو پروژو پرانیسته وکړه. محترم ملا صاحب په خپل وینا کې وویل، د یادو پروژو په بشپړېدو سره به کابل ښاریانو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته او ترانسپورټي ګڼه ګوڼه به راکمه شي.د دغو پنځو پروژو له ډلې یې پر درېیو عملاً کار پیل شوی. دغه درې پروژې د کابل شمال- لوېدیځ نښلوونکی سړک، د کابل ښار د پنځمې حوزې د کمپنۍ- برچي سړک او د کمپنۍ- کوټې سنګي ترمنځ فرعي سړکونه دي. د دې سړکونو د جوړېدو چارې عملاً پیل شوې او د یو نیم کال په موده کې به بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت بیارغونې په تیره بیا د لویو لارو او سړکونو جوړولو ته ژمن دی او په دې برخه کې یې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. تر دې مهاله د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې دې ته ورته د بیارغونې لسګونه پروژې عملاً پیل شوې دي او کار یې روان دی. ددې پروژو په بشپړېدو سره به له یوه لوري سوداګرې پراخه او اقتصاد به وده وکړي او له بل لوري به خلکو ته د ترانسپورټي اسانتیاوو ترڅنګ د کار زمینه هم برابره شي.

## په کابل ښار کې تر اوسه پورې ۳۵۷۸۸ سوالګر راټول شوي



د سوالګرو راټولولو کمېټې پر کابل ښار سربېره د هېواد په لویو ولایتونو لکه کندهار، بلخ، هرات، نورستان، پکتیا او لوګر کې هم د سوالګرو راټولولو لړۍ پیل کړې، چې تر دې دمه یې سلګونه سوالګر راټول کړي دي. دا پروسه چې لومړۍ له کابل ښار څخه پیل شوې وه د روان لمریز کال د جوزا میاشتې تر ۲۹مې نېټې د ښار له بېلابېلو سیمو ۳۵۷۸۸ سوالګر راټول شوي دي. د راټولو شوو سوالګرو له جملې ۱۳۴۰۹ ښځینه، ۵۷۸۰نارینه او پاتې ۱۶۵۹۹ماشومان دي چې د ماشومانو په ډله کې بیا ۷۱بې سرپرسته ماشومان پېژندل شوي. بې سرپرسته سوالګر ماشومان له بایومیټریک وروسته د کار او ټولنیزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخلېږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعلیم زمینه هم برابرېږي. د یادونې وړ ده چې پر کابل سربېره د هېواد په لویو ښارونو کې هم پر مستحقو سوالګرو په میاشتني ډول د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ پیل شوې، چې دا پروسه به په راتلونکي کې هم دوام ولري.

# جلسهٔ نوبتی کمیسیون اقتصادی در قصر مرمرین تدویر گردید

به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء جلسهٔ نوبتی کمیسیون اقتصادی در قصر مرمرین تدویر و طبق آجندا بر موضوعات مورد نظر بحث شد. در نشست بعد از غور و بررسی فیصله به عمل آمد که وزارت مالیه جهت تکمیل کار باقیماندهٔ بند برق ولسوالی مانوگی ولایت کنر انوایس شرکت قراردادی را تادیه نماید و شرکت قراردادی مکلف است تا با اخذ انوایس پول مقروضین را نیز بپردازد. کار بند برق ولسوالی مانوگی ۹۷,۷ فیصد انجام شده و متباقی آن نیز در آینده نزدیک تکمیل خواهد شد. این بند ظرفیت تولید ۲,۱ میگاوات برق را دارد، که برای ۴۰۰۰ خانواده برق مورد ضرورت را فراهم خواهد کرد. از سوی کمیسیون اقتصادی به کمیتهٔ



مشترک متشکل از نماینده‌گان وزارت های زراعت، آبیاری و مالداری، شهر سازی و مسکن و اقتصاد به ریاست وزارت صنعت و تجارت وظیفه سپرده شد، تا در مورد دوباره فعال ساختن و واضح نمودن حیثیت حقوقی شرکت زراعتی و مالداری بوستان سبز با سهمداران این شرکت جلسه نماید، اگر سهمداران نتوانند حاضر گردند با نماینده های با صلاحیت آنها نشست انجام و پیرامون دوباره فعال نمودن آن تلاش جدی صورت گیرد.

# د اقتصادي معاونيت فعاليتونه او د خلکو نظرونو په اړه خبرنيز راپور خپور شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د روان لمريز کال د حمل مياشتې لـه لومړۍ بيـا د جوزا مياشـتې تر ۳۱مې نېټې پورې د ترسره شـويو فعاليتونو په اړه «د اقتصادي معاونيت فعاليتونه او د هيوادوالـو نظرونه» تر سرليـک لاندې خبرنيز راپور چمتو او خپور کړ. د دې راپور موخه د خلکو نظرونو روښـانتيا او هغو ته پاملرنـه ده. دوهمه موخه يې دا چې اقتصادي معاونيت تر کومه




بريده په خپلو دندو کـې بريالی دی. اقتصادي معاونيت چې مـشري يې د محترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند پـه غاړه ده، له ورسـپارل شـويو مسـووليتونو سره سـم، په اقتصـادي برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي.

دغه خبرنيز راپور کې د دوولس موضوعاتو په اړه د خلکو نظرونه راغونډ او بيا ارزول شـوي دي. دغه دوولـس موضوعات عبـارت دي لـه: د بخش آباد،کمال خان بندونو او د خيرخانې کوتل دويم سرک چارې به پر وخت پای ته ورسېږي، اسلامي امارت د بنسـټيزو پـروژو پلي کېـدو او پر هغو پانګونـې ته ژمـن دی، د مزار شريـف- هرات-کندهار ترمنځ به د اوسپنې پټلۍ پروژې لومړنې کارونـه پيـل شي، ۱۴۰۱لمريـز کال کـې افغانستان د دوه ميليارد ډالرو په ارزښت صادرات درلودل، د ملي تدارکاتو کمېسيون له لورې د

۷۴۰میلیونو افغانیو په ارزښت د پروژو منظورېدل، بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره به کرنه او اقتصاد وده وکړي، ۱۴۰۲ لمریز کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي، د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالګرو د نغدي او خوراکي توکو مرستو د وېش لړۍ پیل شوه، د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه، د کمال خان بند پاتې چارې به په لنډ وخت کې پیل او پر وخت به پای ته ورسېږي، لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو ټرونونه لاسلیک شول او افغانستان او ازبیکستان یو شمېر سترې پروژې په ګډه پرمخ بیایي.

که چېرې پورتنیو موضوعاتو ته ځیر شو، نو راته جوته به شي چې د اسلامي امارت تر چتر لاندې په اقتصادي، سیاسي، ټولنیزه، بیارغونې، مخابراتي خدمتونو ترسره کولو په برخه کې کوم کارونه ترسره کړي دي او خلکو یې په اړه څه ویلي دي. په ټوله کې خلکو ددې موضوعاتو هرکلی کړی دی او ویلي دي چې که چېرې اسلامي امارت په همدې ډول خپلو چارو ته دوام ورکړي، نو لرې نه ده چې د افغانستان د پرمختګ ویاړ به د همدوی په نامه په تاریخ کې ثبت شي.

د دغو موضوعاتو په اړه د دولتي او خصوصي رسنیو او همدا راز ټولنیزو شبکو کې خلکو خپل نظرونه شریک کړي او موږ د دوی نظرونه د شته علمي معیارونو په نظر کې نیولو سره تحلیل او ارزولي دي.

د یادو موضوعاتو په اړه د هېوادوالو نظرونه پر مثبتو، منفي او وړاندیزونو وېشل شوي، د مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو مجموعي شمېر ۳۶۶۴۸ دی چې له دې جملې ۲۹۱۷۸ د مثبتو نظرونو شمېر دی چې د مجموعي شمېر ۸۰ سلنه جوړوي، د منفي نظرونو شمېر ۵۰۲۱ دی چې د مجموعي شمېر ۱۴ سلنه جوړوي همدا ډول د وړاندیزونو شمېر ۲۴۴۹ دی چې د مجموعي شمېر ٦ سلنه جوړوي.

خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې اسلامي امارت کلک هوډ لري چې د افغانستان اقتصاد په خپلو پښو ودروي او د ترسره شویو کړنو څخه یې دا جوتېږي چې په خپلو چارو کې بریالی دی. په داسې یو وخت کې چې پر افغانستان د نړیوالو له لوري بندیزونه لګېدلي دي خو اسلامي امارت په پوره ځیرکتیا سره د دغو بندیزونو اغېزې په شا کړې او د اقتصاد د پیاوړي کولو ترڅنګ یې د هېواد بیارغونې ته هم پوره پاملرنه کړې ده.

د هېوادوالو د نظرونو د تحلیل او ارزونې پایلې دا په ډاګه کوي چې هېوادوال د افغانستان اسلامي امارت له لوري په اقتصادي برخه کې د ترسره شویو کارونو څخه خوښ او په راتلونکې کې د شته پلانونو د تطبیق هرکلی کوي.

## گزارش ربعوار ارزیابی و تحلیل نظریات مردم پیرامون فعالیت‌ها و کارکردهای معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء (از اول حمل الی ۳۱ جوزای ۱۴۰۲) به نشر رسید





# حمایت از تولیدات ملی
# ضامن رشد اقتصادی

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

تردیدی نیست که مسئله اقتصاد و تفکر علمی پیرامون آن باید در اولویت برنامه های حکومت ها قرارداشته باشد. با توجه به این که دغدغه پیشرفت و رفتن به سوی توسعه، یکی از اهداف اساسی جوامع کنونی است، از اینرو حمایت از تولید، اعتدال در مصرف و شکوفایی اقتصاد کشور، بیش از پیش احساس می‌گردد. حمایت از تولیدات ملی و آموزش افراد با توجه به رعایت مصرف، اثرات مثبت متعددی در جامعه دارد که به رشد اقتصادی، اشتغال زایی، رفع مشکل بیکاری، افزایش عواید، شکوفایی استعدادهای داخلی، رشد تجارت بین المللی، پیشرفت صنایع و فابریکه ها و بسیاری از نتایج مفید اجتماعی و اقتصادی که در نهایت به توسعه پایدار و طولانی‌مدت منجر می‌گردد، را به ارمغان میآورد. زیرا یکی از لوازم توسعه پایدار رشد تولید داخلی، حمایت از آن و تبدیل آن به محصولات با کیفیت جهت مصارف داخلی است. بعد از تأمین نیازها و احتیاجات ملی، تولیدات جهت صادرات به دیگر کشورها عرضه می‌شود و گسترش صادرات و تجارت در عرصه بین‌المللی جامعه را به یک قدرت بزرگ و مستقل اقتصادی مبدل می‌سازد. بناً جهت روشن شدن بیشتر این موضوع در نوشته حاضربه تولیدات ملی کشور، اثرات مثبت ناشی از حمایت تولیدات داخلی، اهمیت آن در رشد اقتصادی نظر افگنده شده است.

## تولیدات داخلی افغانستان

تولیدات داخلی یا ملی کشور که بیشتر مرتبط به سکتور های زراعت و صنعت می باشد، در رشد، توسعه و ثبات اقتصادی کشور ما از اهمیت بسزای برخوردار می باشد. چنانچه سکتور زراعت یکی از بخش های کلیدی برای رشد و توسعه اقتصادی بوده و یکی از اساسی ترین منبع عواید در کشور به حساب میرود. زیرا یک بر چهارم حصۀ کل تولیدات ناخالص داخلی را تشکیل و اضافه تر از ۵۰ فیصد مردم کشور در این بخش اشتغال دارند. زراعت در اقتصاد افغانستان اهمیت بسزای دارد. این سکتور یکی از توانا ترین بخش های اقتصاد کشور و تأمین کنندۀ اصلی معیشت یا امرار حیات مردم می باشد.همچنان بخش صنعت سهم قابل توجه و ظرفیت‌های بسیار بالایی در اقتصاد کشور دارد، اصلی‌ترین بخش اقتصاد برای دستیابی به رشد پویا و ارتقای شاخص‌های اقتصادی است، زیرا این بخش در زنجیره اقتصادی کشور زمینه ساز دانسته می‌شود. رشد و رونق در این بخش سایر بخش‌ها را توسعه می بخشد. بناً تولیدات عمدۀ ملی و صادراتی افغانستان در بخش زراعتی که در بازارهای داخلی و بین المللی از شهرت خاصی برخوردار است و در رشد و توسعه اقتصادی ما دارای ارزش زیادی است عبارت اند از گندم للمی که سهم بارز در تولید غله دارد و از جمله محصولات عمده و اساسی می باشد که اکثریت مصارف غلات را در افغانستان تشکیل می‌دهد. میوه های تازه به شمول خربوزه، تربوز، زردآلو، انار، سیب و انگور برای مصارف داخلی و هم برای صادرات تولید می گردد. صدور میوه جات خشک و مغزیات مخصوصاً زردآلو ، بادام ، پسته، جلغوزه هنوز هم یکی از منابع مهم صادراتی افغانستان می‌باشد.همچنان زیتون، هینگ، زعفران، از جمله اقلامی تولیدی ملی اند که در بازار های خارجی از شهرت خوبی برخوردار اند. روی همرفته لبنیات هم یکی از عمده ترین تولیداتی کشور ما بوده که در داخل کشور از آن استفاده به عمل میآید. تولیدات داخلی کشور ما در سکتور صنعت شامل مواد ساختمانی، مواد غذایی، صنایع پلاستیک، لبنیات و نوشیدنی‌ها است. بر اساس آمارهای ارایه شده، تولیدات فابریکه های داخلی در

بخش تولید آب معدنی، صنایع پلاستیک و برخی اقلام ساختمانی به حدی رسیده که این کشور را از واردات اجناس مشابه خارجی بی‌نیاز کرده است. صنایع دستی افغانستان که شامل بربافنده گی، نساجی، معماری، نقاشی، کنده کاری، حکاکی، نجاری، فلزکاری، سرامیک سازی، گنبدسازی، شیشه سازی، بوت دوزی، فلزکاری، عطاری، ادویه سازی و غیره می‌باشد. بافت و تولید قالین، گلیم کشور ما در جهان شهرت بی نظیری دارد، که این همه و همه در رشد اقتصادی کشور حایز اهمیت بوده و می توان به اتکای آن به رشد و توسعه اقتصادی کشور امیدوار بود.



## حمایت از تولیدات ملی متضمن رشد اقتصادی

برای رشد اقتصادی افغانستان باید بر محصولات و صنایع داخلی تکیه داشت. از این طریق دولت ها و حکومت های در حال انکشاف باید زمینه های رشد تولید داخلی و محصولات ملی را بالا ببرند. تولیدات ملی زمانی در یک کشور بلند رفته و به رشد می رسد که نه تنها توسط قوانین و مقررات داخلی مورد حمایت و تشویق قرار بگیرند، بلکه از لحاظ مصرفی و فرهنگی در جامعه تحت حمایت واقع شوند. برای اینکه محصولات و اقلام تولیدی در کشور بتواند با محصولات وارداتی در کشور رقابت کند، ضمن آنکه از کیفیت خوب برخوردار باشد، باید توسط ابزارها و شیوه های قانونی قیمت آن نسبت به اجناس وارداتی بالمثل به کمترین قیمت ممکن برای مشتریان عرضه گردد. یکی از وسایل و ابزارهای بسیار مهم جهت نیل به هدف مذکور وضع تعرفه های گمرکی مناسب است. با تعیین تعرفه های گمرکی مناسب می توان از تولیدات داخلی حمایت کرد تا آنها در برابر محصولات و اقلام وارداتی از پشتوانه اقتصادی برخوردار گردد. تعرفه های گمرکی مناسب می تواند ورود اجناس و محصولات را کنترول و تنظیم نماید. نتایج حاصله از وضع تعرفه های گمرکی مناسب و متناسب با اموال و تولیدات وارداتی، حمایت از تولیدات ملی است که این مسئله سبب ایجاد ثبات و پایداری مالی شده و از فرار سرمایه از کشور جلوگیری می کند. علاوه از آن حمایت از تولیدات و محصولات داخلی یا ملی، کیفیت و استندرد های محصولات را افزایش داده باعث رفع مشکل بیکاری و کاریابی در کشور می گردد. با بالا رفتن کیفیت محصولات، اعتماد مردم به اجناس داخلی افزایش یافته و کشور می تواند گام های بزرگی را در راستای خود کفایی اقتصادی بردارد. امارت اسلامی افغانستان با توجه به حقایق و معیار های سازندۀ علمی بالا در کنار سایر مسایل اقتصادی حمایت از تولیدات داخلی را نیز در صد برنامه های کاری خود قرار داده و همواره تلاش نموده تا از این رهگذر نیز به رشد و بالنده گی اقتصادی متوصل گردد و از مزایای آن به نفع کشور و ملت استفاده ببرد، چنانچه امارت اسلامی ضمن مساعد نمودن جو مناسب امنیتی که یکی از عمده ترین مسایل برای فراهم سازی زمینه کار و پیکار در همه عرصه ها است به وجود آورده، همچنان از میان برداشتن فساد اداری، خود سرها، اختلاص، رشوه و سایر بی نظمی های که در اداره سابق به یک فرهنگ مبدل گشته بود، بساطش برچیده شده و توجهی بیشتری به مسایل اهم در همه ابعاد خصوصاً مسایل اقتصادی داشته و جهت حمایت از محصولات زراعتی فعالیت های چشمگیری را به منصه اجرا گذاشته و می گذارد. چنانچه به هدف حمایت از تولیدات ملی به ده ها نمایشگاه های زراعتی و صنعتی را در داخل و خارج از کشور براه انداخته و هدف آن این بوده تا در قدم اول محصولات ملی افغانستان به نمایش گذاشته شود و از این طریق مردم در داخل کشور با محصولات افغانی آشنا شوند و از جانب دیگر در چنین نمایشگاه ها در بخش زراعت ماشین های جدید و عصری ،ادویه های زراعتی و سایر همچو موارد به نمایش گذاشته می شود که در عرصه سکتور زراعت از آن استفاده به عمل میآید، که این مسئله به نحوی از انحاء بالای تولیدات زراعتی و صنعتی کشور تأثیرات بسزای گذشته و سبب ازدیاد محصولات می شود و از جانب دیگر تدویر نمایشگاه در داخل و خارج کشور معرفی تولیدات کشور به سطح ملی و بین المللی بوده و از این طریق مارکیت خوبی برای این تولیدات فراهم می گردد که این خود در فروش و صادرات تولیدات ملی یک کشور حایز اهمیت است و باعث تولید بیشترگردیده و با افزایش تولیدات رشد و توسعه اقتصادی به گونه ای درست رونما می گردد. همچنان به منظور حمایت و سرعت بخشیدن امور فابریکه ها و پارک های صنعتی به تأمین برق دوامدار مبادرت ورزیده است. همچنان به هدف حمایت از متشبثین کوچک در سال ۱۴۰۲ خورشیدی نورم ثابت مالیه اصناف را از ۱,۵ به ۰,۵ فیصد کاهش داده است، که این مسئله نیز به شکل از اشکال در این روند کارگر واقع می گردد. به همین شکل امارت اسلامی در حصه رفع مشکلات و چالش های که سد راهی تولیدات ملی قرار می گیرد به اسرع وقت اقدامات صورت گرفته تا باشد، تولیدات ملی روند نارمل داشته باشد.

## نتیجه‌گیری

از مفاهیم که در فوق بـــه گونه ای اجمالی به آن اشاره شد، چنین استنباط می شود، که حمایت از تولیـدات ملی و آموزش افراد بـــا توجه به رعایت مصرف، اثـــرات مثبت متعددی در جامعه دارد که به رشـــد اقتصادی، اشـــتغال زایی ، رفع مشکل بیکاری، افزایش عواید، شـــکوفایی استعدادهای داخلی، رشد تجارت بین المللی، پیشرفت صنایع و فابریکه ها و بســـیاری از نتایج مفید اجتماعی و اقتصادی که در نهایت به توسعه پایدار و طولانی مدت منجر می‌گردد، را به ارمغـــان میاورد. با در نظرداشت این مهم امارت اسلامی افغانستان با به راه اندازی نمایشـــگاه های محصولات زراعتی و صنعتی در داخل و خارج کشور به هدف حمایت از تولیدات داخلـــی مبادرت ورزیده، که هدف آن هماناً معرفی محصولات ملی در داخل و خارج از کشور بوده تا تولیدات کشور به معرفی گرفته شود و زمینه بازاریابـــی برای آن فراهم گردد. همچنان امارت اســـلامی جهت حمایـــت از تولیدات ملی برای کارخانه ها و پارک هـــای صنعتی به تأمین برق دوامـــدار مبادرت ورزیده تا باشـــد این روند وضعیت نارمل داشته باشد و به تولیدات بیافزاید. کاهـــش مالیه اصنـــاف از ۱٫۵ به ۰٫۵ مســـئله دیگری جهت حمایـــت از تولیدات داخلی یا ملی است که انجام شده است.

# A brief overview of infrastructure projects in Kabul City



By Amanullah Hanifi



Kabul City boasts a larger population than all other provinces in the country, as is often the case with capital cities around the world. Typically, the central city of a nation enjoys a substantial population and abundant amenities across various aspects of life. Kabul, with its significantly higher population compared to other provinces in Afghanistan, holds the status of being a prime investment destination due to the multitude of opportunities it offers, including convenient access to services, educational facilities, and business prospects. Recognizing the strategic significance of Kabul's geographical location and the

enthusiastic interest of numerous investors seeking government support, the Islamic Emirate of Afghanistan has dedicated special attention to the city. Particularly, the Office of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs of the Islamic Emirate warmly welcomes investment requests from domestic entrepreneurs and ensures comprehensive support for investments throughout Afghanistan, with a specific focus on Kabul City. Such collaborative efforts aim to foster economic growth, and the Islamic Emirate is committed to facilitating cooperation in all sectors. Encouragingly, with the provision of investment opportunities and the supportive environment fostered by the Islamic Emirate, numerous domestic investors have invested hundreds of millions of Afghanis in various parts of Kabul City. Notably, the Gulbahar Plaza project, being undertaken by the private sector in the 9th zone of Kabul City, deserves mention. This project encompasses hundreds of residential units and commercial establishments, with an investment of $70 million. Its completion is anticipated within three years, promising substantial employment opportunities for thousands of citizens and catalyzing transformative changes within the business sector. In addition to private sector initiatives, the government has launched several projects to stimulate employment, enhance citizen amenities, and promote the



overall development of Kabul City. Among these projects is the inauguration of the second part of the Khairkhana-Kotal Road, which serves the primary objective of alleviating congestion in Kabul City and facilitating smooth transit operations. The second phase of the Khairkhana-Kotal Road spans 3,710 meters in length and measures 27 meters in width. It features 7,850 meters of concrete canals and incorporates 11 bus stops. The project, costing 370 million Afghanis, is financed through the domestic revenue of Kabul Municipality and has generated employment opportunities for hundreds of individuals. To regulate the urban landscape of Kabul City and implement the urban plan, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, recently inaugurated five major projects in different parts of the city. Of particular significance is the opening of the Kabul north-west connecting road, spanning 7.5 kilometers in length and 30 meters in width. This project carries a price tag of 530 million Afghanis, also financed through internal revenue sources of Kabul Municipality. Upon completion within eighteen months, this road will directly link the northern provinces of the country with the Kabul-Herat highway, significantly enhancing regional connectivity. The successful execution of these projects will lay the groundwork for the economic growth and standardization of Kabul City while contributing to improved traffic flow patterns. The Islamic Emirate of Afghanistan regards it as its responsibility to develop the country, create favorable conditions for its citizens, and provide abundant employment opportunities. Tirelessly pursuing these objectives, the Islamic Emirate plans to initiate major road construction, expand the railway network, and undertake other significant infrastructure projects in various provinces, in addition to Kabul City, to foster national economic stability. Through the development of railway networks, Afghanistan will emerge as a vital connecting hub between South and Central Asia.